د افغانستـــــــان اســـــــلامي امارت

د ارشـــــــاد، حج او اوقافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د ارشـــــــاد او دعوت آمریت

د خطبو د تنظیم عمومي مدیریت

---

دجمعي د خطبو لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۹/۲۸ موافق ۱۴۰۱/۲/۹

# د رمضان المبارک احترام ساتل او دروژې د قضا راګرځولو او کفاره اداء کولو مسائل

الحمدلله المتوحد بالعز والبقاء الذى قضى بالفناء والزوال على اهل هذه الدار ليدلنا بذلک على أن لكل نازل رحيلاً وانتقالاً، وأشهد أن لآإله إلاالله وحده لا شريک له، أهلّ علينا شهر رمضان ليفيض فيه الاحسان على خلقه ويغفرلهم الذنوب ويضاعف لهم الاعمال الصالحة، ثم حكم بانقضائه وانتقاله فمن رابح فيه صار شاهداً له عند الله بالخير وشافعاً لديه فى تخليصه من العذاب وتمكينه من نيل الثواب ومن خاسر فيه قد ضيع اوقاته الشريفة ومواسمه العظيمة باللهو والغفلة والتفريط فصارت حياته عليه وبالا وصار شهر رمضان شاهدا عليه عند الله بالتفريط والاضاعة وخصما له يقيم الحجة عليه عند احكم الحاكمين بما ضيع من حقوقه وانتهک من حرمته ، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله حث على اغتنام الاوقات قبل الفوات وأمربالاستغفار من التقصير والهفوات وصلى الله عليه وعلى اله واصحابه وسلم تسليماً كثيرا.

## ➢ د رمضان المبارک احترام ساتل:

عبادت د مسلمان په ژوند کې یوه سرمایه ده او باید چې حفاظت یې وشي او احترام یې وشي، د عبادت سرمایه په وخت او زماني پوری منحصره نه ده ؛ بلکې د ژوند ترپایه پوری دوامداره د مسلمان ددې سرمایې په ساتنه او حفاظت باندې مکلف دی او په دې مکلف دي تر څو خپل عبادات د ګناهونو په کولوسره باطل نه کړي.

روژه په عباداتو کې ستر عبادت دی او په کارده چې ددې احترام وساتل شي او ددې میاشتې په وتلو سره د بدو کړنو اوخویونو څخه ځانونه وساتو، ځکه بدو عملونو ته مخه کول د روژې آثار له منځه وړي او باطلوي یې.

لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي:{وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِن بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا }النحل:(۹۲)

ترجمه: ستاسو حالت دې دهغه ښځې په شان نه شي چې په خپل زیار سره به یې د تارو کلک مزي وریشل او بیابه یې هغه په خپله اومه او ټوټې ټوټې کړل.

په یو بل آیت شریف کې راځي:{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ} محمد:(۳۳)

ترجمه:ای مؤمنانو! د الله تعالی اطاعت وکړئ او دهغه د رسول اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه بربادوئ.

(عن أبي العالية قال : كان أصحاب رسول الله ﷺ يظنون أنه لا يضر مع "لا إله إلا الله" ذنب، كما لا ينفع مع الشرك عمل، فنزلت: { أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ } فخافوا أن يبطل الذنب العمل) تفسير ابن كثير

ژباړه: دامام ابوالعاليه څخه روایت دی هغه فرمایلي دي: صحابه کرامو داسې ګمان کولو چې د( لااله الا الله) کلمې سره بله هیڅ ګناه ضرر نه شي رسولی ، لکه د شرک سره چې هیڅ ډول عمل ګټه نه رسوي ؛ترڅو چې دا آیت کریمه نازل شو، له دې وروسته صحابه کرام به ددې څخه ویریدل چې نیک عملونه یې دګناه په وجه باطل نه شي.

(عن قتادة، في قوله ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ )... الآية، من استطاع منكم أن لا يبطل عملا صالحا عمله بعمل سيئ فليفعل، ولا قوة إلا بالله، فإن الخير ينسخ الشر، وإن الشر ينسخ الخير) تفسير الطبري-ط الرسالة-ت أحمد شاكر.

ژباړه: امام قتاده رح ددې آیت په تفسیر کې وایي: څوک چې ددې توانایي لري چې نیک عمل په بدعمل سره باطل نه کړي باید همداسې دی وکړي.ځکه نیک عمل شر له منځه وړي او شر نیک عمل له منځه وړي.

باید لکه څرنګه چې په روژه کې زړونه مو په مسجدونو پورې تړلي ؤ ، دی عمل ته د روژو څخه وروسته هم ادامه ورکړو. په یوحدیث کې راځي:( عن أبى هريرة -رضِ الله عنه- قال : قال رسول الله ﷺ " سبعةٌ يظلهم الله فی ظله يوم لا ظل إلاظله ،امام عادل وشابٌ نشأ فی عبادة ربّه و رجل قلبه معلق بالمساجد إذا خرج منه حتى يعود إليه ...) متفق عليه

ترجمه: له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: اوه ډوله خلک دي چې الله تعالی به یې د قیامت په ورځ دخپل رحمت دسیوري لاندې وساتي په هغه ورځ چې پرته دالله تعالی د رحمت دسیوري څخه به بل سیوری نه وي. یو عادل بادشاه، بل هغه ځوان چې د الله تعال په عبادت باندې لوی شوی وي او بل هغه شخص چې زړه یې په مسجد پورې تړلی وي کله چې له مسجده ووزي بیا ورته را ګرځي.

کومو کسانو ته چې الله تعالی په روژه کې د لمانځه توفیق ورکړی ؤ او د قرآن کریم د تلاوت توفیق یې ورکړی ؤ، باید چې دوی د روژې څخه وروسته هم دغه نیکو خویونو ته دوام ورکړي چې په حقیقت کې همدا د روژې د احترام په ځای کول دي او د رمضان المبارک درناوی دي. ځکه چې د مسلمان د روژو د قبلیدو له علامو څخه دا ده چې د مسلمان عبادات او دهغه رفتار د روژو څخه وروسته هم پایداره وي او په عباداتو کې به کوښښ کوي او د رمضان المبارک په وتلو سره به ځان له فضائلو څخه نه محروموي، که د رمضان المبارک میاشت ووتله خو د بنده بندګي په خپل ځای او دوامداره ده، د رمضان المبارک په وتلو سره د عباداتو په انجامولو کې دمسلمان تعهد نور هم پیاوړی کیږي؛ ترڅو دخیرسرچینه تل جاري وي.

که چیرې مسلمان پس له رمضان څخه لمونځ کول پریږدي ، دمنافقینو له جملې څخه شمیرل کیږي ، لکه څرنګه چې ددوی په برخه کې الله تعالی فرمایي:{ وَلاَ يَأْتُونَ الصَّلاَةَ إِلاَّ وَهُمْ كُسَالَى }التوبه:(٥٤)

ترجمه:او نه راځي لمانځه ته مګر د کسالت په حالت کې .

که چیرې مسلمانان د روژو څخه وروسته خپله رابطه له مسجد سره قطع کړي ددې خطر شته چې الله تعالی یې په زړونو باندې مهر ولګوي؛ لکه څرنګه رسول الله ﷺ فرمایلي دي:(لينتهين اقوامٌ عن ودعهم الجماعات او ليختمن الله على قلوبهم ثم ليكونن من الغافلين) رواه مسلم

ترجمه: دا خلک به دجماعت د لمانځه له پریښودلو څخه منع شي او یا داچې الله تعالی به یې په زړونو مهر ولګوي بیا به دوی دغافلانو له جملې څخه وشمیرل شي.

رسول الله ﷺ په یو بل حدیث کې فرمایلي دي:( عن عبد الله ابن عمرو ابن العاص رضى الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ يا عبد الله لا تكن بمثل فلانٍ كان يقوم اليل فترک قيام اليل)البخارى

ترجمه: د عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ای عبدالله! دفلاني په شان مه کیږه . هغه به دشپې تهجد کول بیایي دشپې تهجدکول پریښودل.

د رمضان المبارک میاشت له احترام څخه دا هم ده چې ددې میاشتې روژې په تکبیر او استغفار سره پای ته ورسول شي.

الله ﷻ فرمایلي دي:{وَلِتُكْمِلُواْ الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ اللهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ}البقره:(١٨٥)

ترجمه: اود روژو قضائی ددې لپاره ده چې تاسو د روژو شمیر پوره کړی او دالله تعالی لویي بیان کړی ( تکبیر ووایاست) داچې باندې چې تاسو ته یې هدایت کړی دی او ددې لپاره چې تاسو شکر ګذاره شی.

د رمضان المبارک له احترام څخه دا هم ده مسلمانان باید د روژو په آخر کې د روژ د قبلیدو دعاء وغواړي؛ ترڅو روژې یې قبولی شي. سره ددې چې صحابه کرامو په اسلام کې ستر مقام درلود؛ بیاهم کله به چې هغوی نیک اعمال وکړل ددې څخه به په ویره کې وو، داسې نه چې عبادات یې مسترد شي.لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ}المومنون:(٦٠)

ترجمه: دوی هغه کسان دي چې ورکوي د الله په لاره کې هغه څه چې ددوی په توان کې دي په داسې حال کې چې زړونه یې په ویره کې دي ( ددې څخه چې مبادا عبادات یې مسترد نه شي) ځکه چې دوی خپل پروردګار ته ورګرځیدونکي دي.

### ➢ هغه روژې چې یواځې قضائي راګرځول یې لازم دي:

څوک چې په شرعي عذر سره روژه ماته کړي ، یواځې د روژې قضایي به راوړي.
شرعي عذرونه په لاندې توګه دي:
**١-مرض:** مرض یو له هغو شرعي عذرونو څخه دی چې له امله یې د روژې خوړل جائز دي؛ که چیرې څوک د روژو په سر کې یا منځ کې مریض شو او روژې یې نه شوی نیولای یا دا چې مسلمان حاذق ډاکتر ورته وویل چې روژې مه نیسه ، کولای شي روژې وخوري؛ خو چې کله د روژې میاشت تیره شوه او روغ شو د تیرو شوو روژو قضایي به راوړي.الله تعالی فرمایلي دی:{وَمَنْ كَانَ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ}البقرة: ١٨٥
ترجمه: او څوک چې مریض وي او یا په سفر کې وي( او روژه یې ماته کړه) هغه دې بیا دروژو شمیر پوره کړي.
یعنی قضایي دې راوړي) الله ﷺ په تاسو اسانتیا راوستل غواړي او سختي راوستل نه غواړي ( دا قضایي ددې لپاره لازم شوی ده) چې تاسو د روژو حساب پوره کړی.
امام ابو بکرجصاص ددې آیت شریف په تفسیر کې وایي: (فابتدأ تعالى بيان حكم المريض والمسافر وأوجب عليهما القضاء إذا أفطرا ) أحكام القرآن للجصاص
ژباړه: الله تعالی د مریض او مسافر د روژو دحکم په بیانولو پیل وکړ او په دوی یې قضایي راوړل فرض کړل چې کله روژه وخوري.
که څوک مریض شو او ویریده چې مرض به یې زیات شي او یابه یې مریضي طولانی شي کولای شي چې روژه وخوري اووروسته یې قضایي راوړي.(الجوهره)
کوم کسان چې د شرعي عذر په بناء روژه وخوري، دوی ته په کارده چې کله روغ شي دبل رمضان څخه مخکې دې د خوړل شوو روژو قضایي راوړي.
بناءً که چیرې هغه مریض چې د مرض له امله یې روژې خوړلي وي روغ نه شو او دهمدغه مرض په دوام کې وفات شو په ده باندې دخوړل شوو روژو دفدیې ورکولو وصیت لازم نه دی. همدا راز که چیرې هغه مریض چې روژې یې خوړلي دي او وروسته صحت یاب شو او روژې یې ونه نیولی تردې چې وفات شو په ده باندې د خوړل شوو روژو دفدیې وصیت لازم دی. که چیرې وصیت یې ونه کړ ورثه او یا وصي هم کولای شي دده دمیراث دثلث څخه دهغه د روژو فدیه ورکړي.(الهدية العلائية لعلاء الدين ابن عابدين)
**٢-سفر:** سفر هم د هغه شرعي عذرونو له جملې څخه دی چې له امله یې د روژو ماتول جواز لري. که څوک په سفر ووتلو او دسفر اندازه یې اتیا اویا( ٧٨ ) کیلو متره وه، کولای شي چې روژه وخوري او کله چې د روژې میاشت ووزي باید د خوړل شوو روژو قضایي راوړي. البته که په سفر ورته مشقت نه ؤ روژه نیول ورته افضل دي.
**٣-حیض او نفاس:** حیض او نفاس هم د شرعي عذرونو له جملې څخه شمیرل کیږي. په کومه زنانه چې حیض راشي او یا د روژې په میاشت کې ورته نفاس پیدا شو ، روژې دې ماتې کړي او کله چې د روژې میاشت ووتله او له حیض او یا نفاس څخه پاکه شوه د ماتو شوو روژو قضایي دې راوړي.ځکه طهارت دحیض او نفاس څخه دروژې له شرطونو څخه ده؛ لکه څرنګه چې لمونځ دحیض او نفاس سره جواز نلري ، روژه هم دحیض او نفاس سره جواز نه لري.(تحفة الفقهاء)
**٤-حمل او ماشوم ته شیدې ورکول:** دهغه شرعي عذرونو له جملې څخه چې روژه ماتول ورته جواز لري او یواځې قضاء راوړل یې ضروري دي ، د زنانه حمل(بارداري) او یا هم کوچني ته شیدې ورکول دي.
که چیرې د کومې زنانه په خیټه حمل وي او په دې ویریږي چې که چیرې روژه ماته نه کړي په غالب ګمان سره ځان او یا ماشوم ته یې ضرر پیښږي، کولای شي چې روژه ماته کړي او د روژې د میاشتې څخه وروسته یې قضایي راوړي.

همدا راز هغه زنانه چې ماشوم ته شیدې ورکوي او په دې پوهیږي چې که چیرې روژه ماته نه کړي شیدې یې کمیږي اویا وچیږي او ماشوم ته یې ضرر پیښیږي، داسې زنانه کولای شي چې روژه ماته کړي او وروسته یې یوائې قضایي راوړي. په حدیث شریف کې راځي:( إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى وَضَعَ عَنِ المُسَافِرِ الصَّوْمَ، وَشَطْرَ الصَّلَاةِ، وَعَنِ الحَامِلِ أَوِ المُرْضِعِ الصَّوْمَ) سنن الترمذي ت شاكر
ژباړه: بیشکه الله تعالی ساقطه کړی ده روژه او نیم لمونځ د مسافر څخه او له حاملې او شیدی ورکونکې زنانه څخه.
په دې موضوع کې د مریض، حاملې زنانه او شیدې ورکونکې زنانه هغه غالب ګمان معتبر دی چې په تجربه، علائمو او یا د مسلمان ماهر طبیب په مشوره باندې بنا وي او یوائې وهم نه وي.(الهندیه)
۵-په شدیده ولږه او تنده کې چې دځان دهلاکت او یا په عقل کې دخلل د رامنځ ته کیدو ویره په کې وي، یا په حواسو کې د خلل رامنځ ته کیدو ویره موجوده وي، روژه ماتول جواز لري، په دې شرط چې ځان یې په کار او کسب باندې نه وي ستړی کړی؛ ځکه که چیرې تنده او ولږه یې د کار له امله وي او روژه یې ماته کړه په یو روایت سره کفاره تر څنګ هم قضاء لازمیږي. (مجمع الانهر، مراقی الفلاح)
۶-هغه شخص چې په روژو کې بې هوشي وربانديې راغله او بیا صحت یاب شو، یوائې دقضاشوو روژو قضایي به راوړي؛ خو دهغه ورځې روژې قضاء وربانديې نشته چې په کې بې هوشه شوی دی او روژه یې نه ده ماته کړې. (الهدیة العلائیة)
**دشیخ فاني د روژې حکم:**
**شیخ فاني:** هغه څوک چې د زیات عمر له امله د روژو د نیولو توان نلري او هره ورځ کمزوری کیږي ، کمزوري یې دوامداره وي آن تردې چې وفات شي، په فقهي اصطلاح کې ورته شیخ فانی ویل کیږي.(الهندیه)
شیخ فاني کولای شي چې روژه ماته کړي او دهرې روژې په عوض کې د صدقة الفطر په اندازه غله یا دغلې قیمت مسکین او یا فقیر ته ورکړي.
شیخ فاني کولای شي چې د ټولو روژو فدیه د رمضان المبارک په پیل کې ورکړي او دا هم جائزده چې د رمضان المبارک میاشت په اخر کې فدیه ورکړي.
که چیرې شیخ فاني دفدیې ورکولو څخه وروسته په روژو نیولو قدرت پیدا کړ، ماتې شوی روژې به ټولې نیسي او فدیه له منځه ولاړه. (الهندیه)
## ➢ پرته له عذره روژه ماتول:
که چیرې څوک قصدا روژه وخوري که چیرې د غذایي توکو په خوړلو اود څښاک په څښلو یې روژه ماته کړی وه په دې صورت کې وربانديې د روژو قضایي او کفاره دواړه لازمیږي ځو که چیرې په قصد سره یې روژه په داسې شیانو سره ماته کړی وه چې په عادت کې د خوراک او څښاک لپاره نه ؤ بیا یوائې د روژو قضایي وربانديې واجب ده. ددی خبری تفصیل په لاندې توګه دی:
**۱-دغیرغذایي توکو خوړل:** که څوک پرته له عذره روژه په داسې شیانو ماته کړي چې عادتاً هغه غذا نه وي او دوا هم نه وي ، روژه یې ماتیږي قضایي به یې راوړي او کفاره وربانديې نشته. لکه دتیږو خوراک، د زړیو تیرول ، او د عادي خاورو خوراک.(بدائع الصنائع (۲/ ۹۹)
**۲- قصداً قی کول:**
په قصدي توګه قیء کول روژه ماتوي. چاچې په زوره په قصدي توګه په ډکه خوله قیء وکړ، یوائې د روژې قضایي به راوړي. رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي: (من ذرعه القيء فلیس علیه القضاء و من استقاء عمداً فلیقض)سنن الترمذی
ژباړه: چاچې بی ارادې کانږی وکړی د روژی قضا پری نشته او چاچې قصداً کانږی وکړی، باید د روژې قضایي را وړي.
۳- که چیرې په خطا سره د مضمضې اوبو تیری شوی یوائې د روژې قضایي به راوړي ( نور الإیضاح).
۴-که چیرې چا د صبح صادق ختلو څخه وروسته په دې عقیده پیشلمی وکړ چې صبح صادق ندی داخل شوی او یایې روژه ماتی په دې عقیده وکړ چې ماښام وخت داخل دی په دواړو صورتونو کې روژه به ساتي او یوائې د روژې قضایي به راګرځوي. (الهدایة)
۵-که چیرې د لمر په پریوتو کې یې شک درلود جائز نه ده چې روژه ماتی وکړي؛ ځکه د ورځې شتون یقیني دی او دلمرپریوتل ګماني ده او دیقین په مقابل کې ګمان ته اعتبار نشته او که چیرې روژه یې ماته کړه ددغې ورځې قضایي به راوړي او کفاره وربانديې نشته.(الهدایه)
**په سهو او هیرې سره د خوړو خوړل:**
که چیرې څوک په هیرې او سهوې سره کوم خواړه وخوري یا څښاک وڅښي روژه یې نه باطلیږي، ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: (من نسي و هو صائم فأكل أو شرب فلیتم صومه فانما أطعمه الله وسقاه)صحیح مسلم

ژباړه: چاچې روژه در لوده او هيره يې شوه او څه يې وخواړه يا يې و څښکل، خپله روژه دې وساتي او پوره دې کړي ځکه دا په واقعيت کې الله ﷻ دې چې په هغه يې خوړلي او څښکلي.

### ➢ قضاء او کفاره:

که چيرې چا په لاندې کړنو باندې روژه قصداً ماته کړه د روژو قضايي به راوړي او کفاره به هم ورکوي.

**۱-جماع اوخپلی ښځی سره يوځای کيدل:**

که چيرې څوک د رمضان مياشتې په ورځو کې د روژی په حال کې د خپلې ښځی سره يوځای شي نو روژه يې باطله او کفاره پری واجبه ده .

**۲-قصداً خوراک او څښاک کول.**

که څوک په رمضان کې په قصد سره خوراکی شيان وخوري او يا دڅښلو شيان وڅښي روژه يې ماته شوه ددغې روژې به هم قضايي راوړي او هم به کفاره ورکوي.

الله تعالی فرمايي: {وَكُلُواْ وَاشْرَبُواْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّواْ الصِّيَامَ إِلَى الَّليْلِ} البقرة: ۱۸۷

ترجمه: (دشپې خوړئ او څښئ) ترهغه وخته پورې چې دشپې د تررِمی له توری ليکې څخه مو دسپيده داغ څريکه ترسترګو شي(يعنی چې صبح صادق داخل شي) .

حنفي فقهای کرامو د خوراکي هغو شيانو لپاره يوه جامع ضابطه ذکر کړی ده چې روژه وربانديې ماتيږي او په خوړلو يې کفاره لازميږي. فقهاء کرام وايي دغذايي او دوايي توکو شيانو په استعمال روژه ماتيږي.

په فتاوی عالمګيري کې راځي:(إِذَا أَكَلَ مُتَعَمِّدًا ما يُتَغَذَّى بِهِ أو يُتَدَاوَى بِهِ يَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ )الفتاوی الهندية

ژباړه: کله چې په قصدي توګه غذايي توکي او يا دوا وخوري کفاره وربانديې لازميږي.

په غذايي توکو کې دوه ډوله نظرونه دي:( قَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ أَنْ يَمِيلَ الطَّبْعُ إلَى أَكْلِهِ وَتَنْقَضِي بِهِ شَهْوَةُ الْبَطْنِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ مَا يَعُودُ نَفْعُهُ إلَى صَلَاحِ الْبَدَنِ) الجوهرة النيرة

ژباړه: ځينې علماء وايي چې غذايي توکي هغه دي چې طبيعت يې دخوراک لپاره ميلان کوي او دخيټې شهوت وربانديې پوره کيږي. ځينې نوربيا وايي: غذايي توکي هغه دي چې بدن ته ورڅخه نفع رسيږي.

امام ابن عابدين داخبره داسې تشريح کړی ده: (وَيَظْهَرُ مِنْ ذَلِكَ أَنَّ مُرَادَهُمْ بِمَا يَتَغَذَّى بِهِ مَا يَكُونُ فِيهِ صَلَاحُ الْبَدَنِ بِأَنْ كَانَ مِمَّا يُؤْكَلُ عَادَةً عَلَى قَصْدِ التَّغَذِّي أَوْ التَّدَاوِي أَوْ التَّلَذُّذِ) رد المحتار

ژباړه: دغذايي شيانو څخه مراد هرهغه څه دی چې دبدن دصلاح لپاره وي، داسې چې عادتاً د تغذيې، تداوی او يا دلذت اخيستلو په غرض خوړل کيږي.

**۳-:** که چيرې ناپوهه شخص د حجامت لګولو يا د بريتو غوړولو، ياغيبت کولوڅخه وروسته روژه په دې فکر وخوري چې روژه يې په غيبت، حجامت ... سره ماته شوی ده، په دې صورت کې به ددې روژې قضايي هم راوړي او کفاره به يې هم ورکوي. ځکه پرته د موجه دليل په تش ګمان باندې يې روژه ماته کړی ده.(الهدية العلائية)

### ➢ د کفارې اندازه او ترتيب:

هغه څوک چې پرته له کوم شرعي عذر په رمضان المبارک کې خوراک ، څښاک اويا د خپلې ښځې سره کوروالی وکړي علاوه ددې چې د روژې قضايي به راوړي دکفارې په ورکولو هم مکلف دی.

د کفارې ورکول په دې ترتيب سره ده ، چې په لومړي پړاو کې ديو غلام آزادول دي که چيرې د هغه وس او قدرت يې نه درلود په دوهم پړاو کې دی دوه مياشتې پرلپسی روژه ونيسي او که د هغه وس يی هم نه درلود په دې صورت کې وربانديې لازم دي چې (٦٠) شپيتومسکينانو ته دوه وخته په مړه خيټه ډوډۍ ورکړي او که شپيته مسکينانو ته د نيمه پيمانه (يوه کلو او نهه سوه ګرامه) غنم يا دغنمو وړه ورکړي او يا دې ورته ددې اندازې غنمو پيسې ورکړي.(نورالايضاح)

دابوهريره رضی الله عنه په هغه طولاني حديث کې داسې راځي:( بينما نحن جلوس عند رسول الله ﷺ اذ جاءه رجل فقال: يا رسول الله: هلكت، قال مالک؟ قال وقعت على امرأتي و أنا صائم فقال رسول الله ﷺ هل تجد رقبة تعتقها؟ قال: لا قال: فهل تستطيع أن تصوم شهرين متتابعين؟ قال: لا قال: فهل تجد اطعام ستين مسكينا؟ قال: لا قال: فمكث عند النبي ﷺ فبينا نحن على ذلک أوتي النبي ﷺ بعرق فيها تمر - والعرق المكتل- قال: أين السائل؟ فقال : أنا، قال: خذ هذا فتصدق به فقال له الرجل أَعَلَى أَفْقَرَ مني يا رسول الله؟ فوالله ما بين لا بتيها - يريد الحرتين - أهل بيت أفقر من أهل بيتي فضحک النبي ﷺ حتى بدت أنيابه ثم قال :

(أطعمه أهلک ) صحيح البخاری

ترجمه: يو وخت رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست ؤ چې يو سړی ورته راغی او وه ويل: ای رسول الله!

تباه شوم پيغمبرعليه السلام ورڅخه پوښتل څه دربانذی شوی دي؟ په ځواب کې يې وويل: هغه مهال چې روژه وم د خپلې ښځې سره مې کوروالی وکړ، رسول الله و فرمايل: آيا کوم غلام آزادولی شې؟

وه يي ويل: غلام نه شم آزادولی. پيغمبرعليه السلام وفرمايل: آيا پرلپسي دوه مياشتې روژې نيولای شی؟ هغه و ويل: نه پيغمبرعليه السلام ورته وويل: شپيتو مسکينانو ته ډوډۍ ورکولای شی؟ هغه ځواب کي وويل:شپيتو مسکينانوته ډوډۍ نشم ورکولای. ابوهريره رضي الله عنه وويل: هغه سړی د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره څه موده تم شو، په همدی حال کي چې ناست ؤ د خرما يوه لويه ټکری رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوړل شوه رسول الله پوښتنه وکړه هغه د پښتنو وا لا شخص څه شو؟ هغه سړی وويل: زه دلته يم. رسول الله ﷺ ورته و فرمايل: دا واخله او صدقه يي کړه. هغه سړي پيغمبرعليه السلام ته وويل: آيا دا د ځان نه زياتې فقيرې کورنی ته ورکړم ای د الله رسوله؟ په الله ﷻ قسم چې د مدينی دواړو خواوته (ټول ښارکی) زما د کورنۍ څخه زياته فقيره کورنی نشته. ( د هغه سړي د خبرو په اوريدو سره) پيغمبر صلي الله عليه وسلم دومره وخندل چې انياب غاښونه يې ښکاره شول، بيايې هغه ته و فرمايل: داخپلې کورنۍ ته ورکړه .

**والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**